پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۶/۰۱/۲۵

# لنډۍ د شخص مال، که د خلکو مال؟

## ۲

## لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## اولسمه برخه

استاد اعظم سیستاني هم د لایق د نظر په څېر همداسې ګڼي چې د لنډیو ډېره برخه د ښځینوو له خوا تخلیق شوې دي.
استاد اعظم سیستانی د « لنډیهای پښتو، مولود ذهن زنان پښتون» تر سر لیک لاندې د پښتو لنډیو په یوه بحث کې داسې ویلي دي:
« لندی ها، تک بیت های فولکلوریک ومردمی اند که گویندهٔ اصلی آنها معلوم و شناخته نیست، اما جزئی از ادبیات شفاهی مردمان پشتو زبان است که در سراسر افغانستان و بیشتر دردو سوی خط دیورند زندگی میکنند . هیچکس نمیداند که لندی ها در چه زمانی و توسط چه اشخاصی سروده شده اند، اما از آنجا که مخاطب اکثریت لندیها، مردان نامزد دار یا زن دار اند که به مسافرت رفته اند و زمان بازگشت شان معلوم نیست و یا جوانان مورد نظر دخترانی اند که برای دیدار برسرچشمه آب به آنها پیغام داده میشود، در هرحال، دراغلب لندیها سوز وگوداز فراق یار و معشوق مردانه بچشم میخورد، بنابرین تصور میکنم که باید گویندهٔ اکثریت لندیها، زنان و دختران دم پخت و محروم از لذت جنس مخالف و امکانات دیدار بامرد مورد علاقه شان باشند و این دور از واقعیت زندگی روستائی جامعهٔ پشتوزبان نیست. »
د دې تر څنګ په ځینو بیخي تازه لیکنو کې د دې نظر پلوي شوې چې ډېره سلنه پښتو لنډۍ د ښځو له خوا تخلیق شوې دي. د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په دیرشمه ښاغلي زهیر شینواري په یوه فیسبوکي پوست کې له همدې موضوع سره اړوند په ټینګار ولیکل چې ډېره سلنه پښتو لنډۍ د ښځو د ذهن محصول دي. دا د زهیر شینواري د لیکلي نظر بشپړ متن دی:
«په لنډیو کې د ښځو ونډه!
لنډۍ د پښتو د ولسي ادب یوه بې ساری بډایه پانګه ده . زموږ د ټولنې دژوند او ایډیا هیڅ خوا نه شته چې په لنډیو کې یې انعکاس نه وي میندلی .مینه ، ښکلا ، وصال ، بیلتون خوښي ، خواشیني ، تیری ، عدالت ، سر ښندنه ، وطن پالنه او هر ډول رزمي او بزمي ایډیا په لنډیو کې ځای شوې ده.
د پښتوپه ولسي ادب کې عموما او په لنډیو کې خصوصا د ښځو ونډه ډېره زیاته ده .همدغه لنډۍ دي چې په ویرونو ، ودونو، د غم اوخوښیوپه وختونو کې یې وایي»
سره له دې چې په پښتنې ټولنه کې د ښځو د محرومیت په برخه کې د جهاني استدلال د پښتنې ټولنې له عیني واقعیتونو سره اړخ لګوي، هلته په عیني ډول لیدل شوي او لیدل کېږي چې ښځه محکومه او له ډېرو لومړنیو حقوقو محرومه (بې برخې)ده، خو دومره به هم واقعیت نه وي چې ډ پښتو ژبې ټولې هغه لنډۍ چې ښځینه وو ته منسوبې دي، نارینه به ور ته ناست وي او ځان به یې د یوې ښځې او پیغلې په رول او قالب ک اچولې وي او د هغو له فکر، د هغو له روان او د هغوی له آدرسه به د هغوی دردونه په هنري ژبه داسې بیانوي چې هیڅ څوک به فکر هم نه شي کولای چې دا ښځینه لنډۍ پرته له ښځې بل چا تخلیق کړې ده.
۳ــ د لنډیو لرغونوالی څومره چې فولکلور څېړنکو ښودلی دی، دا مستند نه دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

څنګه چي جهاني د لنډيو د ډېري سلني د تخليق په برخه د ښځينه وو پر رول شک ښودلی دی، دغسي يې د لنډيو تاريخي قدامت ته هم  د شک په سترګه کتلي دي. په دي برخه کي يې د استاد حبيب الله رفيع هغه نظر ته د شک په سترګه کتلي دي چي هغه د لنډيو تاريخ په اټکلي ډول څلور نيم  يا پنځه زره کاله پخوا ښوولی دی. جهاني وايي چي که څوک دومره لويه ادعا کوي، د هغو زمانو خو کم له کمه شل، پنځوس يا سل لنډۍ چي د هغو زمانو د ځينو پيښو انعکاس په کي وي، ولرو. جهاني ليکلي دي:

«محترم حبيب الله رفيع د ځوان ژور ناليسټ او شاعر محمد هارون حکيمي سره په خپله يوه مرکه کي ويلي دي چي لنډۍ له څلور نيم زرو څخه تر پنځو زرو کالو پوري عمر لري. البته د دونه يوې لويې ادعا د اثبات لپاره موږ. يوازي پر تاريخي اټکلونو او قياسونو باندي تکيه نه سو کولای، بلکه ډېرو اسنادو او شواهدو او د لنډيو ډېر زيات شمير مثالونوته ضرورت لرو. له دومره پخوانيو زمانو څخه تر اوسه پوري د پښتنو د ژوند په هره برخه کي دومره ژور تغيرات راغلي دي چي کتابونه ورباندي ليکل سوي او لا ورباندي ليکل کيدلای سي. په دي پنځه زره کلونو کي پښتنو زر ځله داخلي او خارجي جنګونه کړي دي. د هستوګني ځايونه، ښارونه او سيمي يې بدلي کړي دي، مذهبونه يې بدل کړي دي او د ژوند داسي ساحه يې نسته چي په هغي کي دي ژور او د پام وړ تغيرات راغلي نه وي. دا امکان نه لري چي دومره لويو او ژورو تحولاتو دي د پښتنو په اصيل فوکلور کي انعکاس نه وای کړی. خو که موږ په زرهاوو لنډۍ تر نظر تيري کړو نو موږ به د شکل له مخي هيڅ تغير پکښې ونه وينو او د متن له مخي به له ډير لږ تغير سره مخامخ سو. د دي خبري معنی به داوي چي له دوو دريو سوو کالو څخه مخکي ټولي لنډۍ ټولي هيري سوي او د وروستيو پيړيو لنډۍ په ميراث راپاته دي. د دي خبري احتمال ډير کم دی او که داسي پيښه سوې وي نو بيا موږ په کوم استناد د لنډيو د پنځه زره کلن عمر ادعا کولای سو. زه دا نه وايم چي لنډۍ به زيات عمر نه لري خو کله چي موږ د کلونو، او دومره زياتو کلونو، خبره کوو نو بايد چي لږترلږه شل او حتی سل يا څو سوه مثالونه خو ولرو.»

د جهاني صاحب د دي استدلال په برخه کي بايد و ويل شي چي: سمه ده چي د اوس له پاره داسي لنډۍ په ذهن او کاغذ کي په ليکلي بڼه نه لرو چي د څلور يا څلور نيم زره کلونو پخوانی زماني پيښی، خبرې او اسناد په کي وي، دليل به يې هم همدا وښودل شي چي په هغه وخت کي د ثبت او ليکلو وسايل او د را پاتي کيدو اسباب او وسايل به پښتنو نه لرل او ټولنيز او عملي ژوند کي به يې داسي څه نه وو چي له هغو نه په استفادی سره دی د هغه وخت افکار چي په لنډيو کي منعکس شوي وو، داسي خوندي کړي چي د تکنالوژۍ تر دي زماني پورې را رسيدلي وای، او بيا دا د څلور نيم زره کاله لرغونتوب خو لکه د نورو ټولنو او نورو خلکو ځيني اسناد پر اټکل استواره دي.

د لنډيو د لرغونوالي په باب استاد اسدالله غضنفر د يوې مقالي د ليکلو په ترڅ کي د ښاغلي پير محمد کاروان او استاد شپون نظريات  را اخيستي دي.

هلته ښاغلي کاروان «لنډۍ زموږ د ارواګانو همځولي» بللي او شپون صاحب بيا د لنډيو د غني ژانر او شتمنی په باب د يو بهرني نظر را اخيستی دی. او بيا ښاغلي غضنفر د يوه اوږده بحث په ترڅ کي د لنډيو د تل پاتي کيدو او کشش د راز په باب خبرې کړي او د لنډيو په باب يې خپل نظريات هم ورسره مل کړي دي. د دي مقالي په يوه برخه کي استاد اسدالله غضنفر داسي ويلي دي:

«ما د ۱۳۸۶ کال په جوزا کي د لنډيو په باره کي له استاد شپون او کاروان صاحب سره مرکه لرله. کاروان صاحب لنډۍ زموږ د ارواګانو همځولي وبللي چي ډېر خوند يې راکړ. استاد شپون هم د لنډيو په باب د لنډيو غوندي خوږې خبرې وکړې. استاد د شلمي پيړۍ د مشهور ژبپوه يوه خاطره بيان کړه:« زه له مارګن ستږن سره تګاب ته تللی وم. ده اووه څلويښت ژبي زده وي، يوازې يې د پښتو اووه لهجي يادې وې. دی هغه وخت اتيا کلن و. غره ته يې وکتل، ويې ويل:

په لويو غرو د خدای نظر دی

په سر يې واورې وروي چاپير ګلونه

او بيا يې مونږ ته وويل:« که افغانستان ټکه ټکه شي، که يې غرونه ونړېږي او سيندونه يې وچ شي او پښتانه ټول محوه شي خو لنډۍ به پاتي وي ، له دغو لنډيو به بېرته پښتانه را زرغونېږي او بېرته به افغانستان جوړ شي.»

ګڼ پښتانه د لنډيو په باب د استاد شپون او کاروان صاحب په احساس کي شريک دي ...»

له دې نه ښکاري چي د لنډيو لرغونوالی ډېر پخوانی دی چي د زماني په تيريدو  او د نه ثبتيدو په وجه ډيرې لنډۍ چي د پخوانيو زمانو د پيښو اسنا د او شاهدي په کي  خوندي وي، تيرې او هيرې شوې دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

### ۴ـ هر څوک کولای شي چې لنډۍ په خپل نامه ثبت کړي:

د لنډیو په باب د جهاني په نظریاتو کې تر ټولو نوی، د پام وړ او د بحث وړ نظر دا دی چې دی وایي چې هر څوک کولای شي لنډۍ و وایي، په خپل نامه یې ثبت کړی، څو په دې ډول د لنډیو ویلو او لیکلو یو رقابت رامنځ ته شي.
دی داسي استدلال کوي چې پخوانیو خلکو سواد نه درلود، لنډۍ یې په خپل نامه نه شوې ثبتولای او لنډۍ سینه په سینه تر نورو نسلونو پورې لېږدول کیدې. دی وایي چې هغه کسان چې وایي چې لنډۍ دې د شخص په نامه نه ثبتیږي، دا یو نا پوهیدنه یا غلط فهمي ده چې که د لنډۍ شاعر مالوم نه وي، ارزښت به یې لا ډیر وي.جهاني د خپل بحث په یوه ځای کې داسي لیکلي دي:
«ځیني څیړونکي بیا په دې عقیده دي چې اوس هم شاعران کولای سي چې لنډۍ جوړي کړي او ویې لیکي، خو په دې شرط چې لنډۍ به په خپلو نومونو نه ثبتوي. د دې عقیدې او نظر اساس هغه غلط فهمي ده چې ګواکي د لنډیو ارزښت په دې کي دی چې شاعران او ویونکي یې څرګند نه دي. په داسي حال کي چې د داسي په زرګونو لنډیو ویونکي څرګند نه دي چې دومره له هنري ارزښت څخه بې برخي دي چې نه پر کاغذ باندي په لیکلو او نه ذهن ته په سپارلو ارزي. دا چې زړې لنډۍ موږ ته سینه پر سینه را رسیدلي دي، علت یې دا دی چې زموږ اولسونو سواد نه درلود؛ لنډۍ یې لیکلای نه سوای او چا په خپلو نومونو د لنډیو د ثبتولو کمال نه درلود. څکه نو لنډۍ نه لیکل سوي وې او نه یې شاعران څرګند وه. خو که چیري یو شاعر د سل ګونو او زرګونو ښو لنډیو د لیکلو استعداد ولري، موږ څرنګه هغه په خپل کلام او کمال کولو له حق څخه محروومولای سو؟ پخوا چې لنډۍ لیکلي سوې نه وې خو چا لیکلای نه سوای؛ اوس چې یې لیکلای سي پریږدی چې په خپلونومونو یې ثبت کړي او د رقابت په میدان کي ښې، ښکلي او غښتلي لنډۍ ایجاد سي. یعني د لنډیو د اصیل والي او سوچه والي اساس دا نه دی چې لیکل سوي نه دي او اولسونو سینه پر سینه نقل کړي دي بلکه خبره د لنډیو په ښایست، موضوع، متانت او تاثیر کي ده. که یوه لنډۍ ښایسته، سوچه او متینه وي؛ که یې شاعر معلوم وي او که نه وي اولسونه به یې حتما خوښوي، سینو ته به یې سپاري، له یوې حوزې څخه به یې بلې ته نقلوي او خپل ګډ مال به یې بولي او د شاعر له مړیني څخه سل کلونه وروسته به له اولس سره اوسیږي.»
که د لنډیو د ثبتولو د بیلابیلو ستونزو په لړ کي د جهاني صاحب دا نظر ومنل شي چې هر څوک هر ډول لنډۍ کولای شي په خپل نامه ثبت کړي، دا یو ښتنه به د ځینو فولکلوریستانو او څیړونکو له خوا مطرح شي چې مثلاً همدا نن څوک یوه لنډۍ په داسي تورو او مضمون ثبتوي چې ښایي پخوا به په عین تورو او عین مضمون لیکل شوې او ثبت شوې وي، هغه بیا څنګه کیږي او دا مسأله به څنګه کیږي چې فولکلور د اولس مال دی او لنډۍ هم د فولکلور یوه برخه ده، څنګه کیدای شي چې د خلکو مال دې د یوه شخص په نامه ثبت شي؟

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ